# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹۲ ګڼه / چهارشنبه ۱۷ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۹ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۲۸ فبروری ۲۰۲٤ میلادي


## کمیته‌ی بین‌المللی صلیب سرخ به فعالیت‌هایش در افغانستان ادامه می‌دهد

کاتارینا ریتز، مسوول کمیته بین‌المللی صلیب سرخ در افغانستان در دیدار با شیر محمد عباس ستانکزی، معین سیاسی وزارت امور خارجه از ادامه فعالیت این نهاد در افغانستان اطمینان داده است.
عبدالقهار بلخی، سخنگوی وزارت امور خارجه دیروز از دیدار خانم ریتز و آقای ستانکزی، در ایکس، خبر داده است.
در این دیدار رئیس صلیب سرخ در افغانستان گفته که این نهاد با فعالیت طولانی مدت در بخش‌های ماین‌روبی، خوراک، ادویه، آب‌رسانی و عرضه خدمات صحی در افغانستان، کار کرده است.
کاتارینا ریتز هم‌چنان گفته که دفتر صلیب سرخ در افغانستان در حال حاضر برخی پروژه‌های ظرفیت‌سازی و آموزشی ...ص۵

## گسترش روابط کابل و عشق آباد در عرصه های مختلف




مولوی امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی که در یک سفررسمی به ترکمنستان رفته است، بامعاون شورای وزیران و وزیر امور خارجه آنکشور دیدار کرد که درآن روی گسترش روابط دو جانبه بحث شد.
دفترمطبوعاتی وزارت امور خارجه، در خبرنامه‌یی نوشته دراین نشست، پیرامون روابط دوجانبه افغانستان و ترکمنستان، ارتقای سطح حضور دیپلماتیک افغانستان در عشق‌آباد، آغاز کارعملی پروژه تاپی درخاک افغانستان، افزایش برق وارداتی ترکمنستان به هرات، احیای راه لاجورد، گسترش راه آهن و سرمایه‌گذاری های ... ص۵

## اقلیمي بدلون د هیواد کرنه، اوبه او روغتیا برخې زیانمنې کړي



د چاپېریال ساتنې ملي اداري ویلي؛ افغانستان یو له هغو شپږو هېوادونو دی، چې د اقلیمي بدلون له امله یې د کرنې، اوبو او روغتیا برخو ته زیان رسېدلی دی.
د دې ادارې ویاند احمد فرید فرهنګ د ملي تلویزیون پل خپرونه کې ویلي، چې د اقلیمي بدلون د نړیوالو ترل شویو پروژو په اړه یې ... ۵مخ

## افغان حکومت ایران سره د سوداګریزو اړیکو پراختیا هوډ لري

ایران د افغان پانګوالو له لوري په چابهار بندر کې د ۳۵ میلیونه ډالرو په ارزښت د سوداګریز برج د جوړولو اعلان کړی.
"د ایرنا رسنۍ د راپور له مخې د ایران چابهار ازادي سیمې ملکي او زیربناوو مرستیال عبدالحکیم اصفي دغه پروژه یوه ویاړلې پروژه بللې او ویلي یې دي، چې دا پروژه ایران کې د افغان سوداګرو کډوالو ډلې له لوري پیل شوې ده."
له بلې خوا د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي د افغانستان او ایران ترمنځ سوداګریزې ... ۵مخ

## سفر دو گردشگر امریکایی به بدخشان




دوگردشگرامریکایی به بدخشان سفرکردند.
این گردشگران، درجریان سفرشان، ازجاذبه های باستانی وتفریحی بدخشان دیدن کردند.
آنان دردیداربارئیس اطلاعات وفرهنگ بدخشان گفتند : زیبایی های این ولایت وخوبی های مردم افغانستان را که به چشم دیده اند به دیگر جهانگردان شریک خواهند کرد و علاقمند هستند در فصل گرما سال پیش رو دوباره به افغانستان سفر کنند.
جاکوف ایتان گردشگر ۲۷ ساله آمریکایی که جهت ... ص۵

## افزایش ظرفیت تولید برق گازی از سوی شرکت بیان پاور در بخش های از شمال کشور



مسوولان «شرکت بیات پاور» درملاقات با رییس تسهیل سرمایه گذاری ریاست عمومی اداره امور از تصمیم این شرکت مبنی برافزایش ظرفیت تولید برق گازی در شمال کشور خبر دادند.
دراین دیدار انجنیر احمد ضیاخالد، رییس تسهیل سرمایه گذاری ریاست عمومی ... ص۵

## د بغلان د کانونو ریاست ۴۰۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي



د بغلان د کانونو او پټرولیم ریاست په تېرو یولسو میاشتو کې د ۴ سوه میلیونه د زیاتو افغانیو د عوایدو د راټولېدو او د دولت خزانې ته د سپارلو خبر ورکړی.
د دغه ریاست رییس مولوي رحیم الله عبیده باختر اژانس ته ویلي، چې د روان کال په ... ۵مخ


د ۱۳۹۸ کال د کب لسمه! ۳

د استعمار او فکري جګړې په ډګر کې د ښځو استعمالول ۲

د حوت لسم؛ د تاریخ یو بل زرین باب او یادګار! ۳

امروز باید دست در دست هم دهیم تا کشور را آباد ۲


## سرمقاله

## دوحې تړون – د اټکلونو او پلانونو شنډونکی

له اوږدې جګړې وروسته آخر پای امریکایي یرغلګرو هم دا حقیقت درک کړ چې یقیناً افغانستان د امپراطوریو هدیره ده او باید چې له دې هېواد نه د وتلو لپاره یوه داسې لاره ومومي چې په نړیواله کچه یې د شرم او پېغور کچه نسبتاً کمه وي- امریکا او اشرباني یې په دغه موده کې باوري شول چې دا هېواد قطعاً د هضمېدو وړ نه دی او کوم لګښتونه یې چې دلته کړي، هسې خړو اوبو وړي دي- هغوی له یوې خوا په دې وپوهېدل چې کابل کې د منتخب حکومت په نامه جوړه کړې اداره یې افغانانو ته هیڅ ارزښت نه لري او بل لورته هغه مقاومت چې د خپل تبلیغاتي ماشین په زور یې د ترهګرۍ ټاپه ورباندې وهلې، په حقیقت کې د ګرد افغان ولس د انساني، طبیعي، اخلاقي او عقیدوي حقونو د خوندیتوب او دفاع غږدی- ځرنګه چې افغان مقاومت د وخت په تېرېدو سره لا هم پرمختګ کار او پراختیایي موندله چې په ترڅ کې یې د ځینو بهرنیانو اسیر کېدو ته هم خبره ورسېدله، نو یرغلګرو امریکاییانو د اړتیا محسوس کړه چې نور باید مستقیماً له دې مقاومت سره د اړیکو یوه لار پیدا کړي- هماغه ؤ چې په ړومبي ځل د بندیانو د تبادلې خبرې ترسره شوې او بیا څه موده وروسته د نورو خبرو اترو لپاره په قطر کې د یو آدرس په توګه پر دفتر جوړولو موافقه وشوه- که څه هم د قطر دفتر موضوع هم له ډېرو لوړو ژورو راتېره شوې وه خو بالآخره امریکاییانو د (۱۳۹۷هـ ش) کال د میزان په شمله د اسلامی امارت له ټاکل شوي پلاوي سره په رسمي ډول د خبرو اترو پر تغر ... ۵مخ

## تیم نجات وزارت دفاع ملی، ده ها تن را در هرات که در برف گیرمانده بودند نجات داد

تیم نجات قول اردوی الفاروق وزارت دفاع ملی، پنجاه دو تن را در هرات که در برف باری گیر مانده بودند نجات دادند.
دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی دیروز با نشر این خبر گفته است: این ۵۲ نفر به دنبال برفباری های سنگین، درمربوطات ولسوالی های کهسان و اسلام قلعه هرات گیر مانده بودند که شب گذشته نجات داده شدند.
همچنان تیم نجات وزارت دفاع پانزده تن از مسافرین را که در مسیرولسوالی دولینه وشهر فیروزکوه در ... ص۵

## فراه کې د دارالعلوم نعمانیه دیني مدرسه جوړیږي



د فراه ولایت په داراباد کلي کې د څه باندې ۱.۵ میلیونه افغانیو په لګښت د دارالعلوم نعمانیه دیني مدرسې د بنسټ ډبره کېښودل شوه.
د دغه مدرسې د بنسټ ډبرې د ایښودلو په مراسمو کې یو شمېر سیمه ییزیو مسوولینو، سپین ږیرو او ځوانانو ګډون کړی و.
د یاد ولایت د امر بالمعروف نهی عن المنکر ... ۵مخ

## بغلان کې د زرغون چاپیریال ساتنې په نوم د نیالګیو کېنولو کمپاین پیل شو



د بغلان ولایت د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو ریاست له لوري په دې ولایت کې د ۱۴۰۳ کال د نیالګیو کېنولو پسرلنی کمپاین پیل شو، چې په ترڅ کې به یې د دغه ریاست له لوري ۸۵ زره نیالګي د بغلان په بېلابېلو برخو کې کېنول شي.
د بغلان د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو رییس قاري محراب الدین بلال وویل، هڅه ... ۵مخ

## ډبلیو ایف پي: اړمنو افغانانو سره د مرستې لپاره ۷۶۰ میلیونه ډالرو ته اړتیا ده

د خوړو نړیوال پروګرام وایي چې په افغانستان کې په راتلونکو شپږو میاشتوکې د خپلو پروګرامونو د دوام لپاره ۷۶۰ میلیونه ډالره بودجې ته په بیړنۍ ډول اړتیا لري. د خوړو نړیوال پروګرام د هغو افغانانو شمیر چې په دې نه پوهیږي چې بل ځل خواړه به له کوم ځای څخه ترلاسه کړي ۱۶ میلیونه ښودلی دی. د خوړو نړیوال پروګرام افغانستان کې د خپلو پروګرامونو د دوام لپاره د مرسته کوونکو هېوادونو او موسسو څخه ددغې نوې بودجې د چمتو کولو داغوښتنه په داسې حال کې کړې چې د تیرو دوو کلنو راهیسې د ملګرو ملتونو یو شمیر ادارې د بودجې د کمښت د ستونزې سره مخامخ دي.

## جهادي خاطرې

# د ۲۰۷ ظفر قول اردو فتحه!
## (لومړۍ برخه)

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۴۰۰/۵/۲۲ هـ لمریز کال

د هرات ولایت د فتحې په سـهار شـاوخوا اته بجې د ولایت مقام ته د والي صاحب حاجي روحاني دلیدلو لپاره ورغلو، والي صاحب ولایت کې نه و، بېرته د تللو په مهال د دعوت ارشـاد د حلقې د غړي مولوي صاحب غلام حیدر سره مخامخ شو، له جوړ پخیر نه یې وروسته راته کړه، دا کس کامران علیزی نومېږي، د ولایتي شورا رئیس دئ د ظفر قول اردو مسؤلین د امیر اسماعیل خان په شمول د ده په توسط را سره په تماس کې دي، د تسلیمۍ خبره هم روانه ده که تاسو هم راسره ملګری شئ.

موږ هم د تللو، وعده ورکړه، د ولایت مقام نه روان شـوو، کله چې د ګذرې ولسـوالۍ اړوند سـیمې ته ورسېدو، نو که ګورو په سـړک باندې ډلې ډلې د اردو خلع سلا شوي پوځیان را روان دي، دومره ډېر دي، چې تر حسـاب وتلي دي هر ځای ورته مجاهدین ولاړ دي او تلاشۍ ترې اخلي.

وړاندې په تللو کسان نور هم اضافه کېږي دومره ډېر چې له شمېره وځي. یو ناڅاپي زما په ذهن کې د شل کاله وړاندې حالت انځورېږي...

بلې! هغه بوږنوونکی حالت چې د ۱۳۸۰/۹/۲ هـ لمریز کال د شپې پر ۱۱ بجې موږ د کندز ښـار له مرکز نه راووتلو د چاردرو په سیمه کې امریکایي سي ۱۳۰ الوتکو رابانې بې دریغه بمبار وکړ، سـل ګونه ملګري مو شهیدان شول، سهار مو خپل شهیدان شوي مجاهدین ملګري کلیوالو ته د تدفین او ښـخولو لپاره وسپارل، موږ د یرګنک په لوري وخوځېدو.

خپل ژوبل شـوو ملګرو ته مو په ړدو سـترګو کتل خو مرسـته مو نشوه ورسره کولای، موږ د یرګنک دښـتې ته ورسـېدو همدلته مو شپه تېره شوله، په شـپه کې یو ځل بیا د الوتکو غرهار شـو، خو له نېکه مرغه بمبار یې ونه کړ د غرمې وروسته د تسلیمۍ لړۍ پیل شـوه، د دوستم ګنې ملیشـې راغلې، دلته نو د تلاشې اخیسـتلو عملیات شروع شـوه، نغدي روپۍ، ساعتونه، کوټونه او څادرونه یې رانه واخیستل، حتا ما د ژمي لپاره ګوبچه اغوسـتلې وه چې په شمال کې رواج ده او ډېری خلک یې اغوندي هغه یې هم رانه وایستل.

لاسـونه یې تر شا را ته وتړل او په ژورو خوړونو کې یې کښېنولو (چې ددې پېښې بشپړ داستان به په نورو لیکنو کې درته واضح کړم).

خبره مې د ظفر قول اردو د پرسـونل د تسـلیمۍ کوله، له یوې خوا مې خپل د زرګونو ملګرو هماغه د مظلومیت حالت د سـترګو په وړاندې ترسیم شوي و، له بلې خوا مې دغه افغانان په وړاندې ولاړ وه چې شـل کاله یې په پردي ټوپک، ډالر، معاش او ملاتړ زما کور، کلی او هېواد راته سره تبۍ ګرځولي وو...

هـو! دا هماغه خلک وو چـې زموږ ولایت ته په کراتو د عملیاتـو لپاره چې د بهرنیانو ځمکني او هوایي ملاتړ ورسـره و، راغلي وو. خو نـن تش لاس مجاهدینو ته په لاس ورغلل هغه شـوبلو، اسـلحو او چورلکو لکه د آخر زمان پېر چې وایي طلسم به کار پرېږدي، ټولو کار پرې ایښی وو او دوی ترې پلي د ځان د ژغورني په پار د هرات ښار ته روان وو... زه په سوچونو کې ډوب تللی وم، ما ددې حالت هېڅ تصور نه شو کولای...

چې خبره رانه بلې خوا ته ولاړه نشي، قول اردو ته ورسېدو مولوي صاحب غلام حیدری او مولوي صاحب شیر احمد د هرات مرستیال والي مخته ولاړه، تر څو د دوی تسلیمي واخلي، د اشـرف غنی د اداري ټول لوړ پوړي چارواکې همدلته راغونډ شوي وو، دوی په څو موټرونو کې وو د دې کسانو په ډله کې د هرات مخکنبه څېره امیر اسماعیل خان، نبي احمدزی د ظفر قول اردو قومندان، حسیب صدیقي د هرات د ملي امنیت رئیس، د کورنیو چارو د وزارت ارشد معین عبدالرحمان رحمان، د هرات والي عبدالصبور قانع او ګن شمېر نور چارواکي شامل وو.

په عین حال کې لاهم کله ناکله یو نیم ډز د شـا او خوا نه اورېدل کېده چې په دې ډزو کې یو مجاهد هم د شـهادت جام نوش کړ. نوموړي کسـان په ضد مرمۍ موټرو کې سپاره وو شاوخوا یې مجاهدین ترې چاپېره وو د اکثرو کشرانو مجاهدینو هڅه دا وه چې دوی له نږدې ووینې او په دې ټولو کې دوی امیر اسـماعیل خان ته په غوسه وو ځکه په وروستیو کې یې هڅه کړې وه چې د هرات ولسونه د اسلامي امارت په خلاف جګړې ته راوپاروي او په څو استقامته کې یې د مجاهدینو سره سختې جګړې هم کړې وې.

دا چې کشـران مجاهدین طبعاً جذباتیان وي نو ډېرو به ویل چې دا سړی (اسماعیل) د زړه له اخلاصه توبه نه کاږي، که موږ ور پرېږدئ چې کار یې خلاص کړو. له نېکه مرغ زما سـره چې کوم ملګري وه هغوی د اسلامي امارت د استشهادي کنډک د مجاهدینو مخکنی یونیفورم په تن کړی وو چې د وضعیت او د ځوانو مجاهدینو په کنټرول کې یې فـوق العاده رول ولوباوه، دوی فکر کاوه چې دا ډله مجاهدین ګواکې مخصوص د دې کسانو د تسلیمۍ او امنیت لپاره رالېږل شوي دي.

همدلته د دې کسـانو سـره د مرکې لپاره د اطلاعات او کلتور مرستیال احمد الله وثیق صاحب هـم راغلی د موټر دروازه یې نیمه پرانیسـتل او د امیر اسـماعیل خان نه یې پوښتنې پیل کړې...

فکر کوم اسـماعیل خان هم نه غوښتل په داسـې یو حالت کې مرکه اورده کړي، همدا شـان بیا هم د تورن اسـماعیل د لیدلو لپاره مجاهدین راتوی شـول، چـې بیا هم د مخصوص یونیفورم لرونکو مجاهدینو شاته ټېل وهل. نور په بله لیکنه کې ...

# د استعمار او فکري جګړې په ډګر کې د ښځو استعمالول

**لیکواله: خدیجه وردګ**

ښـایي د هر چا ذهـن تـه دا پوښتنه راولاړه شي چې غـرب او غربـي سیکولران ولـي مسـلماني ښـځې تـه دومـره پاملرنـه کـوي؟ ولـې پـه هـر ځـای کـې د هغـې حقونـه غوښـتل کېـږي؟ او ولـې بایـد پـه هـر ډګـر کـې د هغـې شـتون حتمـي وي؟

دا چـې د مسـلمانانو پـه نسـبت غـرب او د دوی سیاسـتوال د ښـځو د حقونـو نـارې ډېـرې وهـي، راز یـې پـه دې کـې دی چـې دوی د ښـځې اساسـي نقـش پېژندلـی، دوی پوهېـږي چـې د امـت او ټولنـې پـه جوړونـه کـې ښـځه څومـره اغېـزه لـري نـو لـه همـدې کبلـه وایـي: «هـر وخـت چـې مونـږ د مسـلماني ښـځې پـه غربـي کولـو، ګمـراه کولـو او بـې لارې کولـو بریالـي شـوو نـو هماغـه وخـت زمونـږ لپـاره د اسـلام کلا ګانـې سسـتېږي او پـه آسـانۍ سـره کولـی شـو چـې پرتـه لـه کـوم مقاومـت څخـه د اسـلامي امـت منـځ تـه د ننوتلـو لار پیـدا کـړو».

د مبشـرینو لـه ډلـې یـو تـن وایـي: «یـو د شـرابو جـام او یـوه سـندرغاړې د محمـدي امـت پـه ویجاړولـو کـې لـه زرو جنګیالیـو څخـه زیـات اغېزمـن دي نـو دوی د مـال او شـهوت پـه مینـه کـې ډوب کـړئ».

د یهـودو پـه پروتوکولاتـو کـې راغلـي چـې: «مونـږ بایـد مسـلمانه ښـځه تـر خپـل لاس لانـدې راولـو او پـه هغـې ورځ چـې مسـلماني ښـځې مـوږ تـه خپـل لاس راکـړ نـو مـوږ بـری ترلاسـه کـړی».

ډاکتـر مدروبیرغـر وایـي: «مسـلمانه ښـځه پـه اسـلامي ټولنـو کـې یـو تـر ډېـرو پیـاوړو قدرتونـو څخـه یـو قـدرت دی چـې کولـی شـي اسـلامي ټولنـه فسـاد تـه راوکاږي یـا یـې لـه منځـه یوسـي او یـا یـې لـه دیـن څخـه لیـرې کـړي».

جـان بـوکارو پـه خپـل کتـاب «الاسـلام فـي الغـرب» کـې وایـي: «هغـه غربـي اغېـز چـې د اسـلامي ټولنـې پـه هـر ډګـر کـې لیـدل کېـږي او د اسـلامي ټولنـې د لـه منځـه ورلـو سـبب کېـږي، دغـه اغېـز پـه هیـڅ شـي کـې دومـره پیـاوړی نـدی لکـه څنګـه چـې د ښـځې د آزادۍ پـه غوښـتلو کـې دی».

غـرب او د دوی اسـتعماري لښـکرو د ټولنـې پـه جوړونـه او د نسـل پـه روزنـه کـې د ښـځې ګواښـونکی مقـام تـر مسـلمانانو زیـات پېژندلـی دی. دوی پوهېږي چې د ښـځو پـه غېږو کـې امتونـه روزل کېـږي، د توحیـد او جهـاد مفاهیـم رغـول کېـږي او همـدا ښـځې دي چـې د غـرب پـه وړانـدې

هغـه نسـلونه روزي چـې دوی تـرې پـه وېـره کـې دي، نـو لـه همـدې کبلـه غـرب تـل پـه دې لټـه کـې دی چـې څنګـه وکولـی شـي مسـلمانه ښـځه د فسـق او فسـاد ډګـر تـه راوکاږي، د هغـې پـه واسـطه پـه ټولنـه کـې فحشـاء او بـې حیایـي خپـره کـړي، د مـال او شـهوت پـه مینـه کـې یـې ډوبـه کـړي، د آزادۍ پـه نامـه یـې لـه کـوره بهـر کـړي تـر څـو لـه خاونـد او اولادونـو څخـه لیـرې شـي او کورنـي اختلافونـه زیـات شـي چـې پایلـه یـې د کورنـۍ ویجاړېـدل دي او د کورنیـو ویجاړېـدل او لـه منځـه تلـل د ټولنـو او امتونـه لـه منځـه تلـل دي.

کـه څـوک وایـي چـې اسـتعمار لـه ښـځو سـره څـه تـراو لـري نـو د دې پوښـتنې ځـواب دې ووایـي چـې د امریـکا د کانګـرس غـړې کارولیـن مارولـي ولـې د کانګـرس دننـه پـه افغانـۍ چـادرې کـې وینـا وکـړه؟ جـورج بـوش چـې کلـه افغانسـتان تـه خپلـې اسـتعماري لښـکرې راولېږلـې نـو ولـې یـې وویـل چـې افغـان ښـځې سـر لـه ننـه آزادې شـوې؟

پـه افغانسـتان بانـدې د امریـکا د یرغـل پـر مهـال د افغـان ښـځو د حقونـو غوښـتنه د امریـکا لـه لومړنیـو موخـو څخـه وه او د دې دلیـل د لـورا بـوش د «افغانـو ښـځو حقونـو» تـر عنـوان لانـدې هغـه لومړنـۍ ریاسـتي وینـا ده چـې هغـې پکـې وویـل: «د تروریـزم پـر ضـد جګـړه نـه یـوازې د تروریـزم پـر ضـد ده بلکـه د ښـځې د کرامـت او حقونـو لپـاره هـم ده».

امریـکا پـه افغانسـتان بانـدې د خپـل یرغـل پـه دوران کـې پـه زرګونـو جوماتونـه بمبـار کـړل خـو پـه کونـړ ولایـت کـې یـې د میلیونونـو ډالـرو پـه لګښـت سـره د ښـځو لپـاره جومـات جـوړ کـړ، نـو آیـا د دوی موخـه پـه جومـات کـې د ښـځو عبـادت او کـه لـه کـور څخـه د ښـځو بهـر کـول و؟

غـرب د یـوې ماسـټرې او یـا ډاکټـرې مسـلماني څخـه دومـره وېـره نلـري لکـه څومـره چـې د افغانـې ښـځې لـه چـادرې څخـه ویرېـږي، دوی د افغـان ښـځو د تعلیـم او زده کـړې نـارې دومـره نـه وهـي لکـه څومـره چـې د چـادرې د لـه منځـه ورلـو نـارې وهـي، ځکـه یـوه چادریوالـه یـا محجبـه ښـځه د فتنـو، فحشـاء، بـې حیایـۍ او بـد اخلاقـۍ د مخنیـوي لپـاره تـر ټولـو مهمـه وسـیله ده او دا هغـه څـه دي چـې د غربـي ډموکراسـۍ لـه شـخصي آزادۍ سـره پـه ضـد کـې دي.

لکـه څنګـه چـې کلونـه وړانـدې فرانسـوي اسـتعمار د الجزایـر خـاورې تـه ننـوت مګـر الجزایرانـو د دوی پـر وړانـدې سـخت مقاومـت وکـړ نـو دوی بـه یـو لـه بلـه پوښـتل چـې څـه وکـړو څـو پـه دوی بانـدې برلاسـي شـو؟ وروسـته یـې دا پرېکـړه وکـړه چـې بایـد پـه فرانسـه کـې لـه ټولنپوهانـو څخـه مرسـته وغـواړي څـو دوی تـه لار وروښـایي. دوی پـه ډېـر کـم وخـت کـې نوموتـي ټولنپـوه روجیـه مونیـه الجزایـر تـه وروغوښـت او لـه ده څخـه یـې د الجزایـري ټولنـو د تحلیـل غوښـتنه وکـړه څـو وکولـی شـي پـر الجزایرانـو بانـدې برلاسـي شـي.

روجیـه مونیـه د څـو ورځـو لپاره پـه الجزایـري ټولنـه کـې ځـان ورک کـړ او وروسـته لـه کـم وختـه دوی تـه لـه پایلـې سـره یـو ځـای راغـی او ورتـه ویـې ویـل چـې الجزایـرۍ ښـځه...! اسـتعمارګرانو ورتـه وویـل چـې مـوږ لـه تـا څخـه د ښـځو پوښـتنه نـه ده کـړې بلکـه د داسـې طریقـې پوښـتنه کـوو چـې وکولـی شـو پـه دوی برلاسـي شـو..! روجیـه مونیـه ورتـه وویـل چـې الجزایـرۍ ښـځه د الجزایـر د مقاومـت اصلـي سـبب دی، ځکـه هغـه خپـل بچـي تـه لـه شـیدو ورکولـو سـره یـو ځـای د اسـلام مینـه، د هغـه پـه خاطـر سرښـندنه او د الله تعالـی پـه لاره کـې جهـاد ورښـایي. نـو کـه تاسـې غـواړئ چـې پـه دغـو خلکـو برلاسـي شـی بایـد لومـړۍ یـې مـور بـې لارې کـړئ، د هغـې پـام نـورو شـیانو تـه ور واړوئ او د هغـې او خاونـد تـر منـځ یـې بـې اتفاقـي واچـوئ!

فرانسـي چـې کلـه د الجزایـر د مقاومـت سـبب وپېژانـد نـو د دوی د ښـځو د بـې لاره کولـو او بربنډولـو پـه لټـه کـې شـول، فرانسـوي اسـتعمار پـه دې وتوانېـد چـې د الجزایـر هغـه ښـځې لـه کورونـو بهـر او لـه اخلاقـو او حیـاء څخـه یـې لیـرې کـړي چـې ځانونـه بـه یـې لـه دې وېـرې د څارویـو پـه خوشـایو بانـدې چټلـول تـر څـو د فرانسـې پوځیـان د دوی عـزت او شـرف ونـه لوټـي او د خوشـایو د بـد بـوی لـه کبلـه دوی تـه ورنـږدې نـه شـي. غـرب او د اسـلام دښـمنان پـه دې پوهېـږي چـې پـه اسـلامي ټولنـو کـې د کورنیـو د لـه منځـه ورلـو لپـاره «ښـځه» تـر ټولـو آسـانه وسـیله ده او پـه دې هـم توانېـدی شـي چـې د ښـځې پـه وسـیله فسـاد او فحشـاء د ټولنـې نـورو برخـو تـه انتقـال کـړي ځکـه چـې د ښـځې بـې لارې د یـو نسـل، یـوې کورنـۍ او یـوې ټولنـې بـې لارې ګڼـل کېـږي.

# امروز باید دست در دست هم دهیم تا کشور را آباد کنیم

**مولوی حیات الله موحد غوری**

پس وقتـی کـه خـدای دنیـا مـا را بشناسـد نیـاز بشـناخت چهارتـا اوبـاش نداریـم ایـن را تمـام دنیـا بدانـد کـه مـا در طـی بیسـت سـال دفـاع از مقدسـات و شـعائر اسـلام بـه جهانیـان ثابـت کردیـم کـه ملّـت افغانسـتان ملـت مجاهـد و غیـور کـه در مقابـل هیـچ قلـدر سـرخم نکـرده و خـم نخواهـد کـرد، ملّتـی مظلـوم و سـتمدیده افغانسـتان در طـی ایـن بیسـت سـال بسـیار رنـج کشـیده اسـت. شـما تاریـخْ کـدام ملـت را سـراغ داریـد کـه این‌گونـه در مقابـل امـواج خصومت‌هـا ثابت‌قـدم مانـده باشـد و در عیـن مظلومیـت، باکمـال قـدرت پایـداری کنـد و خـود را از معرکـه مشـکلات و سـختی‌ها برهانـد.

نمی‌دانـم این‌هایـی کـه ادعـای حقـوق بشـر دارنـده بـه چـه دلیـل مـا را بـه رسـمیت نمی‌شناسـند ملّـت افغانسـتان نـه تجـاوز کـرده و نـه حقـوق ملّت‌هـا را پایمـال کـرده. ملّـت افغـان مظلومانـه و بـا کم‌تریـن تجهیـزات دفاعـی، از کیـان و نظـام اسـلامی خـود در مقابـل تجاوز نابرابـر دشـمن دفـاع کـرد و ایـن بیسـت سـال یـادآور مظلومیت‌هـا و معصومیت‌هـای ملّـت افغـان اسـت

اگر جهان از اسلام ترس دارد

اسـلام، دیـن صلـح و دوسـتی اسـت در اندیشـه اسـلامی جنـگ اصالـت نـدارد و دعـوت بـه صلـح و آرامـش، هویـت اصلـی دیـن اسـت. البتـه اگـر کسـی یـا دولتـی اقـدام بـه تجـاوز کنـد، وظیفـه همـه مسـلمانان ایـن اسـت کـه بـرای دفـع تجـاوز قیـام کننـد «مـا مسـلمان‌ها بـه طبـع اسـلام، بـا جنـگ همیشـه مخالفیـم و میـل داریـم کـه بیـن همـه کشـورها آرامـش و صلـح باشـد؛ لکـن اگـر جنـگ را بـر مـا تحمیـل کننـد، تمـام ملتمـان جنگجـو و عاشـق شـهادت اسـت»

افغانسـتان سـرزمین دلیـران اسـت اگـر شـما از تاریـخ افغانسـتان آگاه باشـید در اندیشـه بنـده حیـات الله موحـد و در اندیشـه همـه ملـت مـا اشـغالِ حتـی یـک وجـب از خـاک میهـن اسـلامی، غیرقابـل تحمّـل اسـت. «امـروز، روزی اسـت کـه ملـت مـا بایـد دسـت در دسـت هـم بدهنـد و نگذارنـد کـه دشـمن برنامه‌هـای خـود را عملـی کنـد و تقاضـای بنـده از تمـام اعـم از مسـئولین امـارت اسـلامی و غیـر مسـئولین ایـن اسـت کـه حُـب ریاسـت و حـب وظیفـه را از دل‌هـای خـود دور کننـد و در هـر رتبـه کـه هسـتند هدفشـان پیشـبرد دیـن الله جل‌جلالـه باشـد و کشـتی شکسـته ایـن ملـت را بـه سـر منـزل مقصـود برسـانند و بـر همـه مشـکلات کشـور رسـیدگی کننـد و بالخصـوص سـپاه و ارتـشِ نجیـب و دلیـر امـارت اسـلامی افغانسـتان را گَسـترش بدهنـد و بـه دشـمنان بفهماننـد کـه دشـمنی بـا ملـت افغـان محـال اسـت اگـر بخواهنـد بـا مـا دشـمنی کننـد بایـد بداننـد کـه بـا مردمـی سلحشـور و جنگجـو مواجـه خواهنـد شـد کـه وجب‌به‌وجـب از میهـن و شهرشـان دفـاع می‌کننـد»

# د حوت لسم؛ د تاریخ یو بل زرین باب او یادګار!

لیکوال: حمادافغان شیرزاد




د تاریخ په اوږدو کې د بیلا بیلو اړخونو، هېوادونو او خوځښتونو تر منځ د سولې او روغې/ جوړې بې شمیره تړونونه شوي، چې ځینې یې کامیاب او ځینې یې بیا تر اوله د لا سختو جګړو لامل شوي. دا چې د تړونونو رواج له ډېر پخوا را روان دی او په نتیجه کې یې ښکیل اړخونه هغه عوامل له منځه وړي چې دوی یې جګړې ته اړ کړي، نو دلته هم موږ د همداسې یو تاریخي تړون یادونه کوو.

افغانستان د سیمې او نړۍ یو مهم او ستراتیژیک هېواد دی، چې هر وخت د نړۍ آبر قدرتونو یې د نیولو ناکامې هڅې کړې؛ چې ورته د سر او مال په ستره بیه او تاوان تمامې شوي، که انګریز و او که روس دلته د خپل زور آزمایي وکړه؛ خو د ناکامۍ او ذلت پرته یې هیڅ هم تر لاسه نه کړل، لا دلته او په نړۍ کې د هغوی د شرمونکې ماتې کیسې کېدلې او خلکو یې د عبرت مثالونه وېل؛ چې د نړۍ بل زبر ځواک د جهان د نورو اشرګرو سره په دې ټاټوبي خپل نجس قدمونه کیښودل او د وحشت ستر داستانونه یې ثبت کړل .

خو دا چې دې شهید پرورې او اسلامپالې خاورې کله هم د پردیو ولکه او زورواکي نه ده منلې؛ نو په وړاندې یې د تاریخ ستره معرکه پیل شوه. جهاد وشو، قربانۍ ورکړل شوې، کلي او کورونه مو وران شول، بازارونه مو ونړېدل، د ناویانو د ودونو، د دستاربندیو او خوشحالیو محفلونه مو بمبار شول، د جنازونو قطارونه ووتل او هر طرفته د ویر او بې وزلۍ چیغې وې؛ خو دې ولس ماته ونه منله، سر یې خم نشو، بلکې دښمن آخر هم د خپلې ماتې منلو لپاره مجبور او وشړلو. لله الحمد.

دا چې امریکا افغانستان ته د بیلا بیلو سوچونو، فکرونو او خوبونو سره راغلې وه، چې دلته مقاومت او سپېڅلې مبارزې یې زیاتره هماغسې خوب او خیال پاتې کړل؛ نو د خپلې شرموونکې ماتې او ناکامۍ د پټولو لپاره یې مذاکراتو او تړون ته مخه کړه، غوښتل یې چې دلته هم دا ولس تېر باسي او خپله ناکامي په بریا بدله کړي، خو دا چې د قربانیو او سپېڅلو وینو برکت وو، د افغانستان غیور او متدینو مشرانو دا ډګر هم وګټلو او دې. ستر اشغال او ناورین ته یې په همدې ورځ دوه کاله دمخه د پای ټکې کیښود. افغانستان آزاد او افغانانو د تاریخ یو بل ویاړ او افتخار هم ترلاسه کړ.

دا چې اشغالونه او جګړې ډېرې بدې ناخوالې او نوې پدیدې زیږوې، افغانستان هم د تیر څلویښت کلن خونړي انقلاب سختې او بدې ناخوالې ولېدلې او دلته یې بیلا بیلې ډلې، ټپلې او فسادونه وزیږول، اوس بیا د یو بل پړاو پر لور روان و، د سیمې او نړۍ هېوادونه او استخباراتي کړیو په دې هېواد کې د خپل نفوس د پراخولو کوښښ کولو، ځینو یې بیا د تجزیې خوبونه لیدل؛ خو دا هر څه د یو چا په مبارزې او سیاسي هلو/ ځلو پای ته ورسېدل.

د حوت او یا کب لسمه هغه ورځ ده چې باید یاد یې د تاریخ په زرینو پانو کې، د سرو زرو په اوبو ولیکل شي، ولې چې په پایله کې یې د اشغال ټغر ټول، له هېواده مو د وحشت، ظلم، جبر، فساد او نورو جرائمو لمنه ورټوله شوه، ښاري امن او ثبات نافذ او نور دلته د جنازو هغه قطارونه ودرېدل چې هره ورځ به یې په ټول افغانستان کې د خلکو له سترګو اوښکې روانې کړې وې. هېواد بشپړ آزاد او د امن بیرغونو د هندوکش پر سر هم رپا وکړه.

دا ویاړمنه او پرافتخاره ورځ دې ټول افغان ولس ته بیا بیا مبارکه وي.

# د ۱۳۹۸ کال د کب لسمه!

داکتر فاروق اعظم




کله چې په ۱۸۳۹م کې انګریزانو د امیردوست محمدخان پوځ مات او شاه شجاع یې د کابل پر تخت کښیناوه، عام ولس انګریزانو ته پورته سو. د برتانیا سفیران برنز او مکناتن یې یو په بل پسې ووژل او بالاخره، د انګریزانو د لښکر مشر جنرال الفنستون مجبور سو کابل خوشې کړي او خپله د فوج سره جلال آباد ته عقب نشیني وکړي. په لار کې مجاهدینو حمله پرې وکړه او د الفنستون شپاړس زره عسکر ټول قتل سول. یوازې یو داکتر (ویلیم برایډن) هغه هم د یو افغان په مرسته ژوندی تر جلال آباده ورسید. دا د انګریزانو په تاریخ کې تر ټولو بده ماته وه. که دغه عقب نشیني د مجاهدینو او غازیانو سره په تفاهم سوې وای، انګلیسانو ته به دومره تلفات نه وای رسیدلي او نورو جنګونو به ادامه نه وای پیدا کړې.

همداراز، په ۱۸۷۸م کې انګریزانو بیا پر افغانستان حمله وکړه. افغانان ورته پورته سول. هرځای پر انګریزانو حملې وشوې. د برتانیا سفیر (کیوناري) غازیانو وواژه او په جولای ۱۸۸۰م کې د میوند خونړۍ جنګ ونښت چې بالاخره د انګریزانو په سخته ماته پای ته ورسید. خو د میوند د فاتح غازي محمد ایوب خان سره سوله ونه سوه؛ نو ځکه بیا د کندهار په پیرپایمال کې جنګ ونښت.

په مئ ۱۹۱۹م کې دریم وار بیا د افغانانو او انګریزانو ترمنځ جنګ وسو. خو دا واري د انګلیسانو او غازي امان الله خان ترمنځ چې د جنګ یوه خوا وو، توافق وسو چې د افغانانو د استقلال د اعادې او په هېواد کې د امن سبب سو.

روسانو په ۱۹۷۹م کې پر افغانستان حمله وکړه. افغانان ورته پورته سول او تر ډېرو درنو تلفاتو وروسته روسان مات او له افغانستانه ووتل (۱۵ فبروری ۱۹۸۹م). خو روسان ترپایه حاضر نه سول د مجاهدینو سره کښیني او یو توافق ته سره ورسیږي. بلکې په عوض کې روسان او په کابل کې د هغوی لاسپوڅی حکومت د پاکستان او امریکا سره په ژینو کې کښینستل او د افغانستان پر سر یې معامله وکړه. نتیجه دا سوه چې مجاهدینو د جینوا تړون رد کړ او جنګ ختم نه سو.

امریکاییانو په اکتوبر ۲۰۰۱م پر افغانستان حمله وکړه او تر ډېرو تلفاتو وروسته په ۲۹ فبروري ۲۰۲۰م کې یې د طالبانو د اسلامی امارت سره د یو تړون له مخې له افغانستانه د خپلو عسکرو د وتلو اعلان وکړ. له دغو جنګونو څخه موږ دا زده کړل هروخت چې د متجاوز او ملي مقاومت ترمنځ د اشغال او جنګ د ختم توافق سویدی، هلته سوله او امن راغلی دی، لکه د امیرامان الله خان په وخت کې او هروخت چې دغسې توافق نه دی سوی، جګړې او تباهۍ ادامه پیدا کړیده لکه د روسانو وتل او د افغان انګلیس لومړي دوه جنګونه. اوس چې د کب پر لسمه ۱۳۹۸هـ.ش (۲۹ فبروري ۲۰۲۰م) د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې توافق لاسلیک سو، موږ د تاریخ په حکم ویلای سو چې که د دغه توافق متن او روح سم عملي سي، هېواد ته به ان شاء الله؛ امن او دایمي استقرار را وګرځي.

# متکبرباچا

عبدالرحیم راشد

د ځینو خلکو له هدایت سره شوق وي، مګر تکبر د دې لامل سي چې د دیني شعائرو له پیروۍ څخه سرغړونه وکړي.

هو، تر بجلکو لاندې د جامو په کښته کولو سره تکبر کوي، د خپل ښایست په ښکاره کولو سره تکبر کوي او د مشرکانو سره په مخالفت نه پرېښودلو سره تکبر کوي.

د هغه له پاره ظاهري ښکلا د الله تعالی له پیروۍ څخه غوره ده.

ځینې ښځې همداسې وي د خپلې ښکلا له پاره حجاب ته اهمیت نه ورکوي، د وربځو په نړۍ کولو سره د الله تعالی په نافرمانۍ کې مبتلا سي. که چیري څوک نصیحت ورته وکړي، تکبر او سرغړونه کوي.

په داسې حال کې چې د چا په زړه کې د تکبر یوه ذره هم وي، جنت ته به داخل نه سي او هغه تکبر خو پرېږده، چې د هدایت د نه منلو لامل سي.

«جبلة بن الأیهم» د غسان له باچاهانو څخه وو، ایمان یې زړه ته داخل سو او په اسلام مشرف سو، بیا یې د مسلمانانو خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته لیک ولیکه او له هغه څخه یې د ورتګ هیله وکړه.

عمر رضي الله عنه او نور مسلمانان په هغه ډېر خوشحاله سوه، بیا عمر رضي الله عنه د هغه په جواب کې ولیکل: زموږ لوري ته راسه، هر حق چې موږ لرو، ته یې هم لرې او هره دنده چې زموږ پر غاړه ده ستا پر غاړې هم ده.

جبله د خپل قوم له پنځه سوه (۵۰۰) تنو سپرو سره را روان سو، کله چې مدینې ته رانژدې سو، په زرو اوبدل سوې جامه یې واغوستله او په ملغلرو ښکلی سوی تاج یې په سر کښېښود او خپلو ساتونکو ته یې فخر کوونکي او قیمتي جامې په تن کړې، بیا نو مدینې ته دننه سو. هیڅوک په کور کې پاته نه سو، حتی ښځې او کوچنیان هم د هغه د لیدنې له پاره له کورونو څخه راوتلي وه.

څه مهال چې عمر رضي الله عنه ته راورسېدی، نو هغه ده ته ښه راغلاست ووایه او خپل ځانته ئې نژدې کړ.

د حج موسم سو، عمر رضي الله عنه هم حج ته ولاړ او جبله هم له ده سره ووتی.

د کعبې شریفې د طواف پر مهال ناڅاپه د بني فزاره له قبیلې څخه یو تن د ده پر جامو پښه کښېښوده. جبله په درد ورته وکتل او داسې لغته ئې وواهه، چې پوزه یې ور ماته کړه.

فزاري سړی غمجن سو او د هغه شکایت یې عمر رضي الله عنه ته ورسوی.

عمر رضي الله عنه هغه ته استازی ولېږه او ورته وې ویل :اې جبله! ولې دې خپل ورور په طواف کې وواهه او پوزه دې ور ماته کړه؟

هغه وویل: هغه زما پر جامو پښه کښېښوده، په الله سوګند که د حرم شریف بې قدري نه راتلی غاړه مې ور پرې کوله.

عمر رضي الله عنه وویل: اوس چې دې ومنل یا به هغه خوشحاله کوې او یا به ستا څخه بدله اخلو، هغه هم باید تا په لغته ووهي.

جبله وویل: هغه زما څخه بدله اخلي، په داسې حال کې چې زه باچا او هغه رعیت (ولس) دی؟

عمر رضي الله عنه وویل: اې جبله! اسلام ته او هغه یو شان کړي یاست او ته پر هغه هېڅ غوره والی نه لرې، مګر په تقوا او پرهېزګارۍ سره.

جبله وویل: نو زه نصراني کېږم؟

عمر رضي الله عنه وویل: «هر څوک چې خپل دین بدل کړي هغه باید مړ کړل سي».

که چیري نصراني سې، غاړه به دې پرې کړم.

جبله وویل: اې امیر المؤمنینه! تر سبا وخت راکړه؟

عمر رضي الله عنه وویل: سمه ده.

د شپې جبله او ملګري یې مدینې ته وتښتېدل او له هغه ځای څخه قسطنطنیې ته ولاړه او نصراني سو.

ډېر وخت تېر سو... خوندونه ولاړه، افسوس او پښېمانی پاته سوې، د خپلې مسلمانۍ د وخت په سوچ کې سو، د لمانځه او روژې خوندونه یې یادول او د اسلام په پرېښوولو او شرک کولو څخه یې الله تعالی ته ډېري پښېمانۍ کولې او د خپلې پښېمانۍ په اړه یې بیتونه ویل.

همداسي پر نصرانیت پاته سو، تر هغه چي مړ سو.

هو، پر کفر مړ سو، ځکه الهي شریعت ته یې غاړه نه ایښوده او تکبر یې وکړ.

مأخذ: د هدایت پلوشې صـ۴۱

# د خپل نظر ساتنه وکړه؛ تر څو ذهني سکون ترلاسه کړې!

**لیکنه: م حمادشیرزاد**

الله تعالی په دنیا کې انسانان او نور مخلوقات پیدا کړي، انسان یې اشرف المخلوقات ګرځولی او همدا لامل دی چې ټوله دنیا یې انسان ته مسخره کړې، تر څو ګټه ورځنې پورته کړي، خو له بل پلوه یې بیا ورته حدود هم ټاکلي، تر څو له یادو حدودو څخه سرغړونه ونه کړي، د نظر ساتنه هم یو حد دی د الله تعالی له طرفه، په سورة النور کې الله تعالی فرمایي «قل للمؤمنین یغضوا من ابصارهم ویحفظوا فروجهم ذالک ازکی لهم» چې خپلې سترګې ټیټې ساتئ، د خپلو شرمګاو ساتنه وکړئ، د نظر ساتنه همدا ده چې غلط پرې نه ګورې، نامحرم ته سترګې ورونه ګرځوې او اوس خو د میډیا او موبایل دور دی، باید موبایل کې که ځانته ناست وې او یا له نورو سره نامحرم او غلط شیانو ته پکې نظر ونه کړې، الله تعالی یې خپله حکمت هم بیان کړی، چې یاده کړنه ستاسو لپاره ډېره ګټوره او فایده منده ده.

علماء وایي که په یوځای کې دې په یوه زنانه ناپامی کې سترګې ولګېدلې، هغه نظر شریعت کې معاف دی، خو نحوست د یاد نظر بیا هم پاتې کېږي، که دې فکر وکړ ورته، ذهن دې کمزوری کېږي، ذهني ورتیا دې له منځه وړي او همداسې نور، د نظر حفاظت او ساتنې سره د انسان د ذهن او مخ ښکلاء زیاتیږي، د انسان په خبرو کې وزن پیدا کېږي، شرافت او رعب یې زیاتېږي او همدا راز ذهني سکون خدای وربښي.

د نظر ساتنې په اړه د علاج لپاره یو کیسه رایاده شوه، یو ځوان یو عالم ته راغلو، ویل یې محترمه د سترګو د نظر ساتنه نشم کولای؛ هر وخت چې په بازار تیریږم نو انجونو او ښځو ته ګورم، فکر او سوچ یې راخراب کړی، د دغه څه علاج او درمل راته وښایه؛ چې رب نجات راکړي او ذهني سکون ترلاسه کړم. عالم ورته وویل چې زه به علاج درته وښایم خو په یو شرط، ځوان ورته وویل هر شرط ته تیار یم، خو چې له دغه ناوړه مرض څخه خلاص شم.

عالم ورته وویل دا یو پیاله شودې به زموږ هغه بل ملګري ته چې د بازار هغې طرفته یې جومات دې ورسوې، خو پام چې یو څاڅکی هم درنه ونه غورځوي او یو تن به د پیرې لپاره هم درسره ځي، که دې له پیالې یو څاڅکی هم وغورځولو، له علاج به هم محروم شې او یاد کس به تا په ډک بازار کې په دواړو مخونو وهي ؛ نوموړي پیاله واخیسته او روان شو، په ډک بازار تیر شو، فکر او سوچ یې دغې ته و چې له پیالې کوم څاڅکی ونه غورځي، له علاج به محروم شم، په ډک بازار به بې عزته او سپک شم او ذهني سکون به هم ترلاسه نه کړم، پیاله یې ورسوله او بیرته همدغه عالم ته راغلو.



عالم ترې وپوښتل چې پیاله دې څنګه ورسوله، هغه وویل چې روغه او سالمه مې ورسوله، عالم بیا ورته وویل چې لاره کې دې په کومه انجلۍ نظر ولګید؛ ځوان وویل نه صیب؛ هېڅ مې ونه لیدل، ځکه پخپل عزت داړېدم.

عالم ورته وویل یو ورځ راروانه ده چې قیامت ورته وایي هغه ورځ به د ټول مخلوق پر وړاندې رب درڅخه پوښتنه کوي چې فلان ځای کې دې ولې داسې بد نظر وکارولو، فلان کار دې ولې وکړ، آیا هغه عزت مهم دی او که یواځې د دغې دنیا چې له دوه څپیړو او بازار کې له بې عزتۍ وډار شوې، هغه ځوان پوه شو او بیا یې د خپل نظر ساتنه تر پایه وکړه او ذهني سکون یې هم ترلاسه کړ.

الله تعالی دې موږ ټولو ته د نظر د ساتنې توفیق راکړي. امین.

# په اسلامي روحیه د ځوان نسل روزنې ته پاملرنه پکار ده!

**لیکنه : سید یحی عمر.**

الحمدلله هېواد مو آزاد او د استقلال څادر یې پر ځان و غوړاوه ، هره سیمه مو امن او له سکون څخه برخمنه ده ، ولس مو خوښ او خدای تعالی ته د شکر سجدې لګوي ، هر حکم مو چې د امیر له خولې وځي له شریعت سره یې بشپړ تړاو دی .

هر هېوادوال مو د خوښۍ احساس کوي ، د ژوند په خوند باندې پوه او آګاه شو ، ارام او سکون یې وپیژندل ، په خپلو کارونو مصروف او لګیا دي ، د چا د ظلم او جبر آواز نشته پسې ، مینه او وروروليي خپره ده.

دې ته ورته بې شمیره ښېګڼې زموږ د وطن غیږې ته راغلي ، نو چې داسې ده ولې د خپل نسل خصوصاً د ځوان نسل روزنې ته پاملرنه نه کوو ؟ ولې په اسلامي روحیه او ایماني ولولو د لا ښه سمون هڅه نه کوو ؟ سره له دې چې عالم او امام مو شته، مساجد او مدرسې مو ښې ډېرې ، سهولتونه او اسانتیاوې موجودې او نظام مو په کامله توګه خپل دی .

پلار ، مور او ورور باید په کور کې ، امام په مسجد کې ، استاد په مدرسه کې خپله ونډه مسؤولیت په دې برخه کې په ښه ډول اداء او ځوانان په اسلامي روحیه سمبال کړي .

تېر شل کلن کړغېړن دور مو په فکري برخه کې د ډېر څه په بدل کې پر اذهانو کار کړی دی ، له سمې لارې یې اړولي، همداسې پریښودل یې د لا زیات تاوان سبب ګرځي هم په خپله شخص ته هم ټولنې او نظام ته .

بایدد سیرت اړوند پوره پوهه ، د تیرو اسلافو تاریخ ، د صحیح عقیدې درسونه او دې ته ورته ضروري او اهم موضوعات ورته وړاندې او د اصلاح کوښښ یې وشي .

په اصلاح سره به هم ایماني او وجداني مسؤلیت ترسره شوی وي او هم د راتلونکي لپاره به په اسلامي روحیه برابر ځوانان ، استازي او مشران ولرو. هغه کسان چې فکراً د غرب تر استعمار لاندې روزل شوی او له دیني برخې څخه خاص معلومات او کومه لاسته راوړنه نه لري باید هغوی ته د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې درس او تعلیم ورکړل شي.

نو ضروري او لازمي ده، په دې هکله لاس په کار شو تر څو مسؤولیت مو اداء او له ستونزو او مشکلاتو څخه زمونږ ځوانان په امن او امان کې شي.

# دیوه ویاړلي استرالیایي افغان شپېتم تلین

**عبدالهادي هادي**

نن د یوه ویاړلي افغان استرالیایي حاجي محمد علم له شپېتم تلین سره برابره ده.

حاجي محمد علم چې دلته یې محمد حاجي علم باله د اتلس سوه اتیا شاوخوا په کندهار کې زیږېدلی او په نونسمې پیړۍ کې د اته سوه اوښبنو په ډله کې د استرالیا ادلاید ښار ته راليږدېدلی او د استرالیا د ریل پټلۍ په رغونه کې یې ډېر زحمت وېستلی دی.

حاجی محمد علم په سنتي طب کې لوی لاس درلوده او د ځایي خلکو درملنه به یې کوله.

حاجي علم په استرالیا کې ډېر شته تر لاسه کړل او له اړو خلکو او بې کوره ماشومانو سره یې ډېره مرسته کوله ان تر دې چې په ورځ کې به یې شپږ سوه اړمنو ته وړیا خواړه ورکول، بې کوره او اړ ماشومان یې روزل او د خپلې شتمنۍ زیاته برخه به یې همدغو اړمنو سره په مرستو لګوله.

نوموړی په ۱۹۳۰م کلونو کې یو ځل خپل ټاټوبي کندهار ته ولاړ او چې بېرته راغی نو دلته یې اعلان وکړ چې نور نو غواړي د تل له پاره خپل پلارني هېواد افغانستان ته ولاړ شي خو ۱۹۰۰۰ زره استرالیایانو مظاهره وکړه او سړکونو ته راووتل ، دوی یوه غوښتنه درلوده چې حاجي محمد علم چې اوس په ډاکتر حاجي علم مشهور شوی وو باید په استرالیا کې پاتې شي.

حاجي علم د مظاهره چیانو غوښتنه ومنله او په ادلاید کې پاته شو.

هغه خپل ژوند د اخبارونو له لارې د اسلام تبلیغ، د جوماتونو جوړولو، د اسلام معرفي،د اړو خلکو وړیا درملنې او د بې کسو ماشومانو روزنې ته وقف کړ، بالاخره دغه نامتو استرالیایی افغان په ۱۹۶۴م میلادي کال کې له دې دنیا نه سترګې پټې کړې.

د اروابناد حاجي علم خان له وروستۍ مېرمنې نه یوه لور پاتې چې بي بي نومېږي.

اروا یې ښاده او یاد یې تلپاته.

## شعر و ادب

## خپل اصل مه هیروئ

**رقیب الله ځیرک**

څومره له وېرې او له خوفه ډک دی
تور قبرستان له یاده و نه باسې

مشره چوکۍ دې مبارک وي درته
خو یتیمان له یاده ونه باسې

د اروپا پر تکل تللیه ځوانه!
افغانستان له یاده و نه باسې

عصري تعلیم زده کول ډېر اړین دی
خو پاک قرآن له یاده و نه باسې

د څه لپاره یې دنیا پرېښوده
هغه یاران له یاده و نه باسې

ای د پسرلي په هوا مسته ځوانه!
باد د خزان له یاده و نه باسې

ځیرکه! ډېر پر دنیا مه نازېږه
ژوند د عقبا له یاده و نه باسي

## غزل

**نسیم منصور**

وي دې همداسې دایمي نظام دې نه ړنګیږي
ربه! دا ښکلی اسلامي نظام دې نه ړنګیږي

شي دې ړانده څوک یې چې هڅې د تخریب کوي
همېش حاکم دې رب لري نظام دې نه ړنګیږي

دې ته سپېڅلې له شمېر وتې قرباني شوې دي
آرمان د هر شهید لالي، نظام دې نه ړنګیږي

دا به أقصیٰ ازادوي ځکه په پل روان دی
د أیوبي او د زَنګي، نظام دې نه ړنګیږي

جوړ یې دی فوځ د استشهاد له مبارکو ستورو
شیطانان وژني نې پرېږدي، نظام دې نه ړنګیږي

نسیم منصوره! په جهان کې دې لا وځلیږي
وي دې اباد تل أبدي نظام دې نه ړنګیږي



## سفردو گردشگر امریکایی ...

باز دید از دومین پارک ملی کشور، مناظر طبیعی، حیات وحش، آبدات تاریخی وساحات باستانی به بدخشان آمده است می گوید که خوبی های مردم و زیبایی های که به چشم خود از افغانستان و بدخشان دیده است به دیگر جهانگردان شریک می سازد.

انجنیر ذبیح الله امیری رئیس اطلاعات و فرهنگ بدخشان ضمن استقبال از این گردشگران می گوید: اکنون امنیت به گونه کلی در کشور تامین است و هیچ نوع مزاحمت به سیاحین و جهانگردان وجود ندارد.

به اساس آمارارائه شده، امسال یک صدوهشت گردشگرخارجی به شمول سی وشش زن، به بدخشان سفرکرده وازجاذبه های تاریخی وطبیعی آن، دیدن کرده اند.

## کمیته ی بین المللی صلیب سرخ...

را روی دست دارد که در تبانی با امارت اسلامی آن را عملی خواهد کرد.

در همین حال، شیر محمد عباس ستانکزی، معین سیاسی وزارت امور خارجه گفته که صلیب سرخ با فعالیتهای دیرینه در شرایط سخت در کنار مردم افغانستان بوده است.

آقای ستانکزی به نمایندگی امارت اسلامی از همکاری با این نهاد در افغانستان اطمینان داده است.

صلیب سرخ یک سازمان بشردوستانه جهانی است که در افغانستان در بخشهای بشری به ویژه ارایه خدمات صحی هم اکنون فعالیتهای ثابت دارد.

## د بغلان د کانونو ریاست ۴۰۰ میلیونه ...

تېرو یولسو میاشتو کې یې د دبرو سکرو، ګچ، سمنټو او نورو ساختماني موادو لکه جغل، رېګ او تیږو د کانونو د حق الامتیاز له درکه ۴۳۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي او د دولت خزانې ته یې لېږدولې دي.

نوموړي ویلي، چې دغو کانونو کې ۲۵۰۰ تنه په کار بوخت دي او دغه راز د عوایدو د راټولېدو په برخه کې پر شفافیت ټینګار او داد یې ورکړی دی.

## افزایش ظرفیت تولید برق گازی ...

اداره امور، ازتصمیم شرکت یاد شده استقبال کرد و گفت: امارت اسلامی افغانستان زمینه تسهیلات را برای سرمایه گذاران فراهم می‌کند.

باید گفت: شرکت بیات پاور درحال حاضر در ولایت های جوزجان، سرپل و ولسوالی اندخوی فاریاب فعالیت دارد و با تکمیل بخش دوم تولید برق حرارتی از گاز طبیعی، حدود ۱۰۰ میگاوات برق به ظرفیت تولیدی این شرکت اضافه می‌شود و در مرحله سوم ظرفیت تولید برق به ۲۰۰ میگاوات خواهد رسید.

## فراه کې د دارالعلوم نعمانیه دیني ...

رییس مولوي عبدالمجید صمیم د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي چې دغه مدرسه د کلي د اوسېدونکو په مالي ملاتړ د څه باندې ۱.۵ میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي او شاوخوا ۵۰۰ تنه طالب العلمان به پکې زده کړې وکړي.

هغه زیاته کړه، چې په یاده مدرسه کې د نورو څانګو، اسانتیاوو او دارالحفاظ ترڅنګ د دیني او عصري علومو په برخه کې هم د زده کړو زمینه برابرېږي.

ورته مهال د فراه د اطلاعاتو او کلتور رییس محمد عبدالحي سباوون بیا د دغې مدرسې په جوړېدو د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ په داراباد کلي کې دا لومړنۍ دیني مدرسه وبلله او زیاته یې کړه په دې سره به د یاد کلي ماشومانو ته د دیني زده کړو زمینه برابره شي.

بل خوا د داراباد کلي ځایي اوسېدونکي بیا د دغې مدرسې په جوړېدو خوښي څرګندوي او وایي چې دوی تر دې وړاندې د شاوخوا ۶ ښوونځیو په شتون کې بیا هم دیني مدرسه نه درلوده او دا لومړی ځل دی، چې دلته یوه دیني مدرسه پرانیستل کېږي.

## تیم نجات وزارت دفاع ملی، ده ها تن ...

برفباری گیرمانده بودن نجات داده و آنان را به مرکز ولایت غور انتقال دادند.

این در حالی است که به دنبال برفباری های اخیر اکثری شاهراه ها و جاده های منتهی به مراکز ولایت ها به روی ترافیک مسدود شده اند و تلاش های نهاد های مربوط برای بازگشایی مسیرهای مسدود شده ادامه دارد.

## بغلان کې د زرغون چاپیریال ساتنې ...

کوي څو راتلونکي کال کې ۸۵ زرو څخه ډېر مېوه لرونکي او بې مېوې نیالګي د بغلان په بېلا بېلو سیمو کې کینوي.

د ولایت مقام ریاست دفتر رئیس مولوي لعل جان راشد وویل: « د هېواد هر وګړي دا مسؤولیت او وجیبه ده تر څو د خپل هېواد په سمسورتیا کې ونډه واخلي او خپل هېواد سمسور کړي.

د بغلان د اطلاعاتو او کلتور رییس مولوي اسدالله مصطفی هاشمي وایي، چې د دې ولایت اوسېدونکي دې د نیالګیو کینولو او د نیالګیو د ساتنې او پالنې کلتور عام کړي او هم دې هڅه وکړي، څو په خپلو کروندو کې د نیالګیو کینولو ترڅنګ د ونو او ځنګلونو د پرې کولو څخه لاس واخلي.

د یادونې وړ ده، چې څه اوونۍ وړاندې د بغلان د چاپیریال ساتنې اداري له لوري هم د نیالګیو کینولو کمپاین پیل شوی و، چې په دې سره په دوارو کمپاینونو کې ۳۸۵ زره نیالګي په دې ولایت کې کینول کېږي.

## برنامه های اشتغال زایی درلوگر ...

و اقتصادی که در جریان شش ماه گذشته ازسوی اداره انکشاف قوای بشری با هزینه ۱۰ میلیون افغانی تطبیق گردیده است و برای ۲۵۶ تن شامل زنان و مردان دربخش های حفرکانال ها وپاک کاری و احداث فارم های مرغداری کوچک اشتغال یابی شده است.

قراراست مرحله بعدی این پروژه که برای شش ماه برنامه ریزی شده است به زودی آغاز شود.

## که ملاتړ مو وشي د صنعت برخه ...

مخنیوی وشي. د کندهار د صنعت او معدنونو مسوولین وایي، په دغه ولایت کې د وسپنې د تولیداتو په ځانګړې توګه، د سیخ ګول توکي په پریمانه کچه دي. د مسوولینو په خبره په دې برخه کې له یو شمېر ګاونډیو هېوادونو څخه هم مخکښ دي. دا په داسې حال کې چې د سرپرست حکومت له لوري پر ټولو کورنیو او بهرینو پانګوالو غږ شوی، تر څو په افغانستان کې پانګونه وکړي، چې دا چاره به د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم ګام وي.

## لوګر کې ۱۲۶۰ کسانو ته د سواد زده کړې ...

مالي ملاتړ په نوي ۱۴۰۳ ښوونیز کال کې پیلوي. نوموړی وایي، د سواد زده‌کړې دغه پروګرام یوه میاشت وروسته پیلیږي، چې ۱۲۶۰ تنه نالوسته مېرمنو او نارینه وو ته به په ۸۴ ټولګیو کې زده کړې پیل شي. د عرب په خبره اوسمهال په دغه ولایت کې د سواد زده‌کړې ته د نالوسته کسانو لېوالتیا زیاته شوې ده.

## برنامه جهانی غذا برای ۲۰۰ خانواده ...

را دریافت کرده اند.

برنامه جهانی غذا در مورد مقدار کمکهایش به آسیب دیدهگان حوادث طبیعی در نورستان، چیزی نگفته است.

این در حالی است که پیش از این وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی نیز از کمک به خانوادههای آسیب دیده در پی رانش کوه در نورستان، خبر داده بود.

# لغمان کې پر شاوخوا ۶۰۰ غریبو کورنیو نغدې پیسې وویشل شوې

لغمان د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست باختر اژانس ته په رالیږلو معلوماتو کې وویل چې د بشري مرستو په لړ کې د لغمان ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست تر همغږۍ او څارنې لاندې، د ماشوم ساتنې (Save the Children) مؤسسې له لوري د لغمان ولایت مرکز اړوند بصرام او سه صدې ۲۸۲ کورنیو ته او د قرغیو ولسوالۍ اړوند سرخکانو سیمې کې ۳۱۸ بیوزله، مهاجر او بې سرپرسته کورنیو ته چې چې ټولې یې ۶۲۰ کورنۍ کیږي پخوا د ګډې سروې په نتیجه کې په نښه شوې وې چې نغدې پیسې ورکړل شوې.

په دغه مرسته کې هرې کورنۍ سره ۹ زره افغانۍ ورکړل شوې.

## کابل و عشق آباد روابط شان ...

ترکمنستان در افغانستان گفتگو شد.

مولوی امیرخان متقی گفت: افزایش رفت‌وآمد میان مقام های دوکشور، نشان‌دهندهٔ روابط نزدیک و دوستانه میان کابل و عشق آباد است.

مولوی امیرخان متقی دراین دیدار، درکنار آنکه از ترکمنستان به خاطرآموزش معیاری کارکنان راه‌آهن افغانستان تشکری کرد، خواهان ایجاد تسهیلات در صدور ویزا ترکمنستان برای تجار افغان و کارکنان ترانسپورتی به‌منظور افزایش تجارت دوجانبه و انتقال اموال شد، همچنان ابراز امیدواری کرد که شمار بورسیه‌های تحصیلی برای محصلین افغان افزایش یابد.

سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی در موردآمادگی همه‌جانبهٔ افغانستان برای آغاز کار عملی تاپی در خاک این کشورمعلومات داد و ابراز امیدواری کرد که دو کشور بتوانند در آیندهٔ نزدیک کار عملی این پروژه را در افغانستان افتتاح کنند.

سرپرست وزارت امور خارجه، در مورد پیشرفت کار در سب‌ستیشن نورالجهاد در هرات، افزایش برق درهرات نیز معلومات داد و افزود که اقتصاد،محورروابط افغانستان با منطقه است و راهکار امارت اسلامی بر اتصال منطقه‌یی تمرکز دارد و اعمار شاهراه‌ها و راه‌آهن در افغانستان در اولویت قرار دارند.

مولوی امیرخان متقی هم‌چنان جانب ترکمنستان را به سرمایه‌گذاری درامتداد راه‌آهن به سوی شهر تورغندی-هرات و اندخوی-شبرغان تا مزار شریف تشویق کرد.

در این نشست، رشید مُرَدوف، معاون شورای وزیران و وزیر امور خارجه ترکمنستان گفت: افزایش تجارت ترکمنستان با افغانستان اولویت راهبردی آن کشور است و هردو تیم در قسمت ایجاد تسهیلات برای رفت‌وآمد تجار و کارکنان بخش ترانسپورت افغانستان به ترکمنستان کار خواهند کرد.

مُرَدوف نسبت اهدای بورسیه‌های تحصیلی برای محصلان افغان دربخش‌های برق، خط آهن، ترانسپورت و گاز ابراز آمادگی کرد.

او گفت که کشورش در قسمت پروژهٔ تاپی کار کافی کرده و تیم‌های مشترک دو کشور برای آغاز کار عملی این پروژه در خاک افغانستان در آیندهٔ نزدیک، کار خواهند کرد و افزود که تاپی پروژه‌ای بزرگ است و برای ترکمنستان اهمیت راهبردی دارد.

به گفته‌ی مُرَدوف؛ تیم‌های آنان برای ارتقای ظرفیت سب‌ستیشن نورالجهاد در هرات کار می‌کنند تا ظرفیت برق رسانی برای ساحات اطراف شهر هرات افزایش یابد.

وزیر امورخارجه ترکمنستان هم‌چنان بیان کرد: امتداد راه‌آهن به جانب افغانستان نیز برای کشورش اهمیت راهبردی دارد و هم‌چنان طرح ارتقای ظرفیت ستیشن خط ریل در تورغندی نهایی شده است و تیم‌های تخنیکی دوطرف به کار ادامه خواهند داد تا کار آن به‌زودی آغاز شود.

در این مذاکرات یک روزه در مورد گسترش راه لاجورد نیز صحبت و توافق شد تا نشست نمایندگان کشورهای پنج‌گانهٔ مسیر راه لاجورد درآیندهٔ نزدیک در عشق‌آباد برگزار شود. دو طرف همچنان توافق کردند تا به کارمشترک در بخش‌های مربوطه به سطح عالی ادامه دهند تا گام‌های عمده در راستای منافع دو کشور برداشته شود.

## دوحې ترون- د اټکلونو او ...

زنګنونه ولګول- د مذاکرات چې له هېواد نه د بهرنیو ځواکونو د وتلو، بندیانو آزادولو، کابل اداري سره خبرو اترو او ترهګرۍ ختمولو په شان پېچلو موضوعاتو سره یې تړاو درلود، انتهایي ډېر ځورونکي او ستومانوونکي وو چې یوولس پړاوونه یې تقریباً په یو نیم کال کې پای ته ورسېدل، دغه تړون د حوت په لسمه چې اوس یې دویمه کلیزه ده، د قطر پلازمینې دوحې په یوه هوټل کې د افغانانو د استازو او امریکایي چارواکو له خوا لاسلیک شو.

د یاد تړون د ارزښتونو او اغېزو مهم ټکي دادي چې یو خو په نړیواله کچه د افغانانو له مشروعې دفاع او مبارزې نه د ترهګرۍ نوم لیرې کړی شو او ګردې نړۍ ته ثابته شوه چې اسلامی امارت د افغان ملت د مسلمو حقونو د دفاع یوازنی ضامن او واکدار دی بل دا چې کله امریکې غوندې ځواکمن هېواد له دې امارت سره مخ په مخ د سولې مذاکراتو ته چمتو او بیایې تړون ورسره لاسلیک کړ، نو په کور د ننه او بهر هر چاته معلومه شوه چې پرته له شکه اسلامی امارت دا ځواک او ورتیا لري چې د کابل د تپلي او جعلي نظام پر ځای افغان هېواد په خورا ښه توګه اداره کړی شي- همدې مفهوم د کابل پر چارواکو او د هغوی پر وسلوالو لښکرو باندې هم ژښته ډېر اغېزوکړ- ځکه هغوی ته د مذاکراتو له پیله دا اندازه ولګېدله چې نور یې هم د اشغالګرو پر وړاندې خپل ارزښت بایللی او هم یې په نړیواله ټولنه کې څه عزت او درناوی نه دی پاتې. تر دې چې د همدغه تړون پر اساس د څوارلسو میاشتو په موده کې ټول بهرني ځواکونه له هېواده ووېستل شول او په دې سره د اشغال د پلویانو زړونه دومره مات شول چې د بهرنیو ځواکونو یو څه ټولګی لا د کابل پر هوایي ډګر واکمن و چې بیا د دوی نه مشرپاتې شو او نه کشر- البته اشغال ګرو هیڅکله دا اټکل نه ؤ کړی چې پرخپلو اجیرانو شل کلنه خواري او درې نیم لکه روزل شوی لښکر به یې په داسې ناڅاپي ډول یومخ له منځه ځي- بلکې یقیناً هغوی په دې انتظار ووچې د هېواد څه ناڅه اطرافی اولیرې کلیوالي سیمې به د مجاهدینو پر لاس خو لوی ښارونه به یې د همدغو اندېوالانو تر واک لاندې وي چې په دې ډول به هغوی د جګړې دواړ خواؤ سره اړیکې لري او ګټې به یې خوندي وي خو افغانان به هره ورځ لږ ترلږه خپل دوه- درې سوه ځوانان او واړه- زاړه هدیرو ته لېږدوي خو لوی او قادر خدای جل جلاله پر مظلوم افغان ولس ژښته ډېر فضل وکړ، د دښمن ټولې دسیسې او پلانونه یې ورشنډ او زموږ هېوادبې له یوې دوامدارې جګړې را خلاص کړ چې دادی اوس هر افغان د یو خپلواک اسلامی نظام تر واک لاندې د سوکاله ژوند تېروي- راځئ د تېرو شلو کلو د قربانیو درناوي وکړو او په ډېر اخلاص له همدغه لاس ته راغلي فرصته په ښه ډول استفاده وکړو.

## اقلیمي بدلون د هیواد کرنه، اوبه ...

په بار بار غږ پورته کړی او هیله لري، چې راتلونکی کال به یادې پروژې بېرته پیل شي.

د نوموړي په وینا؛ په کابل ښار کې له ټاکلې اندازې زیات نفوس، د استهلاک شویو موټرو شتوالی، په ژمي کې د کورونو ګرمولو په موخه د ډېرو سکرو او نورو غیر معیاري سون توکو کارول هغه عوامل دي، چې د دې ښار هوا یې ککړه کړې او د مخنیوي لپاره یې اقداماتو ته اړتیا ده.

نوموړي زیاته کړې؛ که څه هم تېرو جګړو او ناخوالو د افغانستان د ځنګلونو او وحشي حیواناتو په ګډون چاپیریال سخت زیانمن کړی، خو په وینا یې د اسلامي امارت له حاکمیت راهیسې ګڼو ادارو له دوی سره په همغږۍ د ځنګلونو وهلو په ګډون د چاپیریالي په ساتنه کې جدي اقدامات کړي دي.

د ښاغلي فرهنګ په وینا؛ په تېر کال کې یې له نورو ادارو سره په همغږۍ د ۴۹۳ نادرو وحشي ژوو او مرغانو د قاچاق مخه نیولې او د ریاست الوزرا د حکم پر بنسټ په ټول هېواد کې د ښکار مخنیوی شوی دی.

## افغان حکومت ایران سره د سوداګریزو ...

او اقتصادي اړیکې ډېرې مهمې بللې او ویلي یې دي، چې ډېر ژر به د چابهار بندر له لارې د افغانستان خصوصي سکټور د پانګونې او فعال حضور شاهدان واوسو.

د دې تر څنګ له افغانستان څخه ایران ته تللي تخنیکي پلاوي د ایران په چابهار بندر کې د تخنیکي ستونزو د حل خبر ورکړی دی.

د اقتصادي چارو کارپوهان چابهار بندر د افغان پانګوالو په ګټه بولي او وایي، چې یاد بندر د هېواد اقتصادي برخې لپاره مهم رول لري.

داسې مهال چابهار بندر کې د افغان سوداګرو پانګونه زیاته شوې، چې په خیبر پښتونخوا کې د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ ګډې خونې همغږي کوونکي ضیاالحق سرحدي په خپله تازه مرکه کې ویلي، چې د ځینو ستونزو له امله له پاکستان څخه افغانستان ته ۷۰ سلنه سوداګري او ترانزیټ کم شوی او افغان پانګوال خپله سوداګري د چابهار او عباس بندر له لارې ترسره کوي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 28 Febuary 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 392


# د اصنافو ټولنې استازو خپلې ستونزې د ریاست‌الوزرا د اقتصادي مرستیال له سلاکار سره شریکې کړې

د ریاست‌الوزرا د اقتصادي مرستیال سلاکار محمد ابراهیم حکمت، په کابل ښار کې د اصنافو ټولنې له استازو سره وکتل.

باختر آژانس تــه د ریاســت‌الوزرا د اقتصادي معاونیت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې چې د مالیې، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د کابل ښاروالۍ استازی هم حاضر وو؛ په کابل ښـار کې د اصنافو ټولنې استازو د مالیاتي اسنادو د بررسۍ، د جوازونو د ورکړې او تمدید، د ذخیره ځایونو د تثبیـت، د تبلیغاتي لوحو د نصب او نورو برخوکې خپلې ستونزې



او وړاندیزونه شریک کړي او د رسېدنې غوښتنه یې کړې ده.

د ریاست‌الوزرا د اقتصادي مرستیال سلاکار ویلي چې د اسلامي امارت مشرتابه او مسئولین د ملت ستونزو ته متوجه دي او د هېوادوالو د هوساینې او په هره برخه کې ورته د آسـانتیاوو برابرولو په موخه شـپه او ورځ هڅې کوي.

هغه په کابل ښار کې د اصنافو ټولنې استازو تـه ډاډ ورکړی چـې د دوی ستونزو ته به د قانون په رڼا کې اړوندې اداري پر وخت او ښـه ډول رسـېدنه وکړي.

## رویدادهای خارجی

### بنايي راتلونکې دوشنبه غزه کې اوربند وشي



د امریکا متحده ایالاتو ولسمشـر جوبایډن په نیویـارک کې د خپل ټاکنیـز کمپاین په یوه ناسـته کې تر ګډون وروسـته د ایسکریمو په یــو پلورنځي کې د ایـس کریم د اخیسـتو پر مهال غزه کې د اوربند پــه اړه د یو خبریال د پوښـتنې په ځواب کې ویلي، چــې هیله لري د راتلونکــې دوشـنبې په ورځ غزه کــې د اوربند د ټینګېدو شـاهدان واوسي.

نومـوړي ویلي، چــې د راتلونکې دوشنبې په ورځ د اوربند د ټینګېدو خبـره ورته د هغه مشـاور کړې او دی خپله ډاډمن نه دی.

بایډن دغـه څرګندونې په داسـې مهال کړي، چې له پرون راهیســې دوحه کې د ښـکېلو لوریو ترمنځ د اوربند د ټینګېدو او د اسـیرانو د تبادلې پر سر خبرې روانې دي.

### اردن د غزې اوسېدونکو ته د هوا له لارې بشري مرستې غورځولي دي



د الجزیرې خبري شـبکې پر وېب پاڼې خپاره شوي مطلب کې راغلي، چـې د اردن د شـاهي پـوځ یوې الوتکــې، چې د فرانســې د هوایي ځواک یوې جېټ الوتکې یې ملتیا کولــه، د غـزې په سـواحلو کې د دغې ټرانګې اوسـېدونکو ته، چې د صهیونیسـت پوځ له سخت ظلم سـره مخ دي، د ژوند تر ټولو اړین مواد غورځولي دي.

دغو مرسـتو کـې د بېلابېلو موادو پولـس بسـتې شـاملې دي او د غورځولو عملیات یــې ورمه ورځ ترسره شوي دي.

غزه کــې دا مهال تــر یونیم میلیون زیات خلک له سـختې لوږې او د ژوند د نورو اړینو موادو له کمښت سـره مخ دي او د اسـرائیلي پوځ د روانو نږدې پنځه میاشتېنیو ظلمونو له امله د ژوند تر ټولو سـختې شپې او ورځې تېروي.

### پر صهیونیستانو د مزایلو باران؛ حزب الله پر اسرائیلو توغندي توغولي

د الجزیرې خبري شـبکې فلسطین څانګې هغه ویډیو خپره کړې، چې په کې لیدل کېـږي، د لبنان حزب الله ډلې تازه پر اسـرائیلو شـاوخوا ۴۰ توغندي توغولي دي.

دواړو لوریــو هم اسـرائیلو او هم د لبنان حــزب الله دغــه توغندیز بریدونه تایید کړي دي.

د یادونــې وړ ده، چې د لبنان حزب اللــه ډلــه پــه روانه جګــړه کې د فلسطیني جهادي ډلو د ملاتړ لپاره وخت ناوخت پر اسـرائیلو بریدونه کوي او وروسـتیو څو ورځو کې د دواړو اړخونو ترمنځ ترینګلتیا زیاته شوې.



**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

## کار ترمیم شاهراه ایبک- مزار و ایبک- پلخمری آغاز شد

کار ترمیم شـاهراه ایبک- مزار و ایبـک- پلخمـری، از دیروز آغاز شـد که در سه بخش ادامه خواهد یافت.

مولوی محمـد رحمان محمدی رئیـس فوایدعامـه سـمنگان درمراسم گشایش کاراین پروژه گفت: این پروژه سه بخش دارد؛ کـه شـامل ترمیـم و داغ گیری چهـل کیلومتـر سرک،سـاخت ۳۶ متـر کانکریـت دو طـرف ترازوی تناژبلند در مسیرشاهراه و ترمیم پل حضرت سـلطان به



طول هشتاد ویک متر است.

وزارت فوایـد عامه، بـرای این پـروژه، سـی میلیـون افغانـی هزینه می کند.

قـرار اسـت کارترمیم شـاهراه ایبک- مزاروایبـک- پلخمری، تا سه ماه دیگرپایان یابد.

مـلا داد خدا» خـادم» معـاون والی سمنگان درمراسم گشایش کارایـن پـروژه گفـت: امارت اسلامی درپی تطبیق پروژه های توسعه یی اسـت تا به مردم رفاه به میان آید.

## د بادغیس ولایت له قومي مشرانو سره ناسته



د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نور الله نوري پرون سـه شـنبه د بادغیس ولایت د سـنګ آتش ولسوالۍ له قومي مشرانو سره ناسته تر سره کړه.

لومـړی قومي مشـرانو د خبرو پر مهال د خپلو سیمو ځینې ستونزې او مشکلات شریک کړل چې په لړ کې یې د سـړک د رغول، د ښوونې لپاره د مدارسـو جـوړول او ځیني نوري ستونزې وې.

په پای کې ښـاغلي نـوري مېلمنو ته ښـه راغلاسـت ووایه او په تېر شـل کلن انقلاب کې یې د اطرافي سـیمو د وګړو سـتړیاوې د ستایلو وړ وبللې، او راغلو قومي مشـرانو ته یې د لارښـوونې تر څنګ د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

## صنعت‌کاران: که ملاتړ مو وشي د صنعت برخه کې به هېواد پر ځان بسیا کړو



د کندهـار صنعتـکاران وایي د یو شـمیر ګاونډیو هیوادونـو په پرتله یې صنعت مخ پـر ودې روان دی. دوی زیاتـوي، د تېر پـه پرتله یې صنعت ښـه شوی، چې د دغه ډول حالت د دوام په صورت کې به ډېر ژر لـه بهرنیو هېوادونـو څخه د را واردېدونکو تولیداتو ... ۵مخ

## برنامه های اشتغال زایی درلوگر، برای صدها تن، زمینه کار را مساعد می سازد



مسـوولان ریاسـت زراعـت ومالداری لوگـر میگویند که در ۶ ماه گذشـته، برای ۲۵۹ تن زمینه کار درمرکـز وولسـوالی های آن ولایت فراهم شد.

مسـوولان در ریاسـت زراعـت ومالداری ولایت لوگر میگویند: با راه اندازی عمرانی ... ص۵

## غور کې له اړمنو کورنیو سره نغدي مرسته شوې ده



د غور ولایت د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست مسـوولینو خبر ورکړی، چې د دغه ولایت په فیروزکوه ښار کې له ۹۰۰ بې‌سرپرسته کورنیو سره نغدي مرسـته شـوې ده. د مالوماتو له مخې دغه مرسـته د UNHCR دفتر لخوا د ARAA موسسې په تخنیکي همکارۍ وېشل شوې ده. د مسوولینو په خبره په دې نغدي مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۳ زره ۵۰۰ افغانۍ ورکړل شوې دي. د غور ولایت اوسېدونکو له دې مرستې هرکلی کړی او په یـاد ولایت کې د نورو اړمنو کورنیو سره د مرستندویه ادارو د مرستې غوښـتنه کړې ده. تر دې وړاندې هم په غور کې د یو شمېر مرستندویه بنسټونو لخوا په اړمنو بېلابېلې مرسـتې وېشل شوې دي. دا مرستې داسې مهال وېشل کېږي چې د خوړو نړیوال پروګرام یو ځل بیا په افغانستان کې د بېوزلۍ د پراخېدو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

## لوګر کې ۱۲۶۰ کسانو ته د سواد زده‌کړې پروګرام پیلیږي

د لوګـر پوهنې ریاسـت وایي، چــې د مرکز پــه ګـډون د دې ولایت په ټولو ولسـوالیو کې څه باندې ۱۲ سـوه کسانو ته د سواد زده‌کړې پروګـرام پیلوي. د لوګر د پوهنې ریاسـت ویاند شاه پور عرب وویل، چې دغه پروګرام د یونسکو په ... ص۵



## برنامه جهانی غذا برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده از رانش کوه در نورستان کمک کرد

برنامـه جهانی غذا (WFP) اعلام کرده که برای ۲۰۰ خانواده آسـیب دیـده از رانـش کـوه در ولایـت نورستان، کمک کرده است.

ایـن نهـاد دیروز (سـه شـنبه، ۸ حـوت) در ایکـس از کمکهایش بـه خانوادههای آسـیب دیده در نورستان، خبر داده است.

بربنیـاد معلومات برنامـه جهانی غـذا، ۲۰۰ خانواده در ولسـوالی نورگرام نورسـتان کمکهای غذایی اضطراری این نهاد ... ص۵